# یو عظیم لارښود

د صدر جوړېدو نه پس یو ورځ ما خپل حفاظتي سپاهي ته ووئیل چې نن به مونږ په رېستوران کښې ډوډۍ خورو . په دې غرض مونږ هلته ورسېدو په کرسو کښیناستو او خپله خپله خوښه مو بېره ته ووې .

زمونږ په خوا ته مېز ناست کس د بېره په تمه وۀ.

ما خپل سپاهي ته ووئیل، ورشه ، او دا کس زمونږ مېز ته راوغواړه. سپاهي لاړو او هغه ته ئې زما له اړخه زمونږ مېز ته د راتلو دعوت ورکړۀ. هغه کس خپل تالے راوړو او زما خوا ته په کرسۍ کښېناست .

هغه کس چې کله ډوډۍ خوړه نو د هغه لاسونه رپېدل او سترګې ئې په خپل تالي ښخې وې او یو ځل ئې هم اخوا دېخوا نه وو کتلي. او چې خوراک ئې خلاص کړۀ نو مالوري ته د کتلو بغیر ئې راته په مخه ښۀ ووې. ما ورسره په مخه ښۀ وکړه او هغه لاړۀ.

سپاهي راته وئیل چې صېبه، دا سړے ناروغه ښکارېدۀ. د خوراک په وخت ئې هم لاس مسلسل رپېده. ما ورته وئیل نۀ داسې خبره نۀ ده. د هغه د لاسو د رپېدو وجه بل څۀ ده. چې کله زه په جېل کښې ووم نو دغه سړے د جېل وارډن وۀ. چې کله به دۀ په ما زور ظلم کوۀ نو ما په د سختې نه چیغې چوغارې وهلې. او چې کله به ترې ما اوبۀ غوښتې نو دۀ به خندل او د اوبو راکولو په ځاے به ئې راله په سر میتیازې کولې.

خو زۀ بل سپکول ښۀ نۀ ګڼم دا زما د کردار خلاف ده .

هغه سوچ چې بدل اخستل ښۀ ګڼي ملکونه تباه کوي. کوم سوچ چې سوله ستاله کول ښۀ ګڼي هغه د ملک د خوشحالۍ او پر مختګ وجه جوړېږي .

**چې زهٔ کله د جېل د دروازې نه راوتم او د ازادۍ په لوري روانېدم نو ماته پته وه چې که ما خپله غصه او نفرتونه شا ته ونهٔ غورزول نو زهٔ به ټول عمر غلام يم.**

**نېلسن منډېلا.**

**نوټ: په اخره جمله کښې د منډېلا مراد د هغې غصې او نفرتونو نه وه کوم چې د جېل د خراب سلوک د لاسه په هغه کښې راغلي وو. د آزادۍ باوجود په دغه قابو ونه مونډهٔ نو هغه به ټول عمر په ذهني توګه غلام وي. يعني په چا چې غصه او نفرتونو زورور وي هغه کله هم ښهٔ حکمران يا لار ښود نهٔ شي جوړېدے.**

**ژباړه: ډاکټر اباسين يوسفزے**